رحمت الله درد

ولاړ رانه چاپېره دے لښکر د تورو شپو
کرنګ مې شو په سترګو کښې منظر د تورو شپو

يو دېو د ترږميو مو په سر دے مسلط
پيوست مو په سينو کښې دے خنجر د تورو شپو

منزل د رڼ سحر رانه ورو ورو لرې کېدو
ورو ورو چې اوږدېدو زما سفر د تورو شپو

دا څوک دے چې دښمن زما د قام د مستقبل دے
دا چا راته شهيد کړو، چاره ګر د تورو شپو

راځئ چې د کوهکن غوندې جذبه د عشق پېدا کړو
راځئ چې په شا ووتنبوو غر د تورو شپو

ټول عمر مې کۀ تېر کړو په ماحول کښې د تيارو
بلد مې درده نۀ شولو نظر د تورو شپو

شاکر الله شاکر (ايف ار بنو)

ترخو چې دغه سرۀ لاسونه ږدې په دېوالونو
تندے به دې ماتيږي د کوڅې په دېوالونو

حالات به ئې په سر خاورې هوارې کړي منم خو
پټيږي نۀ د دوو زړونو جذبې په دېوالونو

جانان مو د غرور له سر د بامه راکوز نۀ کړو
مونږ هسې پسې پرې کړلې سينې په دېوالونو

راځه پښتونه وروره چې په يو وطن اباد شو
تر څو به لکه غل دلته راځې په دېوالونو

د هغو په مزار باندې اوس سپين کاڼي څوک نۀ ږدي
چې چا به لګولې سرې جنډې په دېوالونو

کمبخته پښتانۀ د کتابونو نه ويزار دي
شاکره ورته ليکې به قيصې په دېوالونو

پښتانۀ

سلطان فريدي زروبی صوابی

د هر قام غرې په مثل د غنچې دي
مرکز نۀ لرې خوارۀ دي پښتانۀ

د يووالي د سبق لا خبر نۀ دي
په هر ځائے خوارۀ وارۀ دي پښتانۀ

يا په خپل باندې نازيږي يا په ذات خپل
د خپل قام ځنې مارۀ دي پښتانۀ

سيالي نۀ کوي د وخت په مخکښې تلونکو
په فطرت کښې ډېر زاړۀ دي پښتانۀ

په تعليم باندې مړۀ نۀ په هنر دي
په خبرو په خاتۀ دي پښتانۀ

چې يو بل سره کښېني نو بدائي کا
د پردو مخکښې وارۀ دي پښتانۀ

کومه خاوره چې بې نومه ده د دوي ده
په خپل کور کښې لا اودۀ دي پښتانۀ

حق د لور او د خور نۀ مني ميراث کښې
په دې لار حرام خوارۀ دي پښتانۀ

فقط مونځ روژه ئې لاس ته کړل په دې کښې
پاتې هر څۀ له کاڼۀ دي پښتانۀ

کور دننه يو ډيوې و ته مُتازه
کۀ پراتۀ په نمر خاتۀ دي پښتانۀ

په ښکرہ پښېماني بيا ټپريږي
په بينا سترګو ړاندۀ دي پښتانۀ

چې بدلون څخه تېريږي، قام جوړيږي
له دې رازه خبر نۀ دي پښتانۀ

د تاريخ پاڼې زړې دي څوک ئې څۀ کا
چرې وو، اوس هغه نۀ دي پښتانۀ

## سپینه کوتره

سعدالله مېوند

راځئ د امن لفظ ته روح ورکړو
کړو به د امن امانت د زړۀ په وینو خړوب
راځئ راځئ کرکه، کینه او وسوسه کړو ورکه
او د ژوندون په خړه پړه زمکه
د مینې کر وکړو ګلاب وکرو
د خپل ضمیر د خپل وجدان په کور کښې
سرونه ښکته کړو ځان وپېژنو
او بیا د مینې یزدان وپېژنو
راځئ کړو قتل د خودئ په توره
دا د غرور بې ادبۍ او ځانځانۍ ښاماران
راځئ دا قتل د انسان پربېږدو
راځئ دا قتل د ارمان پربېږدو
راځئ په خپل وجود کښې پټه بلا وپېژنو
راځئ د ژوند دغه بې دریغه ښکلا وپېژنو
ځکه دا ټولې بلاګانې د دهشت او د ویر
زمونږ له خلو او له کرداره زیږي
مونږ یو دځان هم دجهان قاتلان
ځکه چې مونږ خپل انانیت هیر کړے
مونږ عظمت د انسانیت هیر کړے
زمونږ کردار سپینه فضا د طبیعت نیولې
سپینه کوتره به د سولې دلته څنګه راشي

## پېش ګوئي

قېصر اپریدے

راشـــه راشـــه حـــق ګــوئي واؤره لـــه مانـــه
یـــوه نـــوې پېشـــګوئي واؤره لـــه مانـــه
د اقـــــدارو د تـــــاریخ پـــانړې ګـــواه دي
چـــې اقــدار پـــه ځــائے اتــال حقیقــت نــۀ دے
د اســـمان غونـــدې ولاړ حقیقـــت نـــۀ دے
د اقـــــدارو د تـــــاریخ پـــانړې ګـــواه دي
چې اقدار لکه دستورو کله وخاندي روښان شي
کلـــه تـــت شـــي او بیـــا پـــټ شـــي
او پـــــه ورکــــــه لار روان شـــــي

یـــو ســـړي خپلـــو بچـــو تـــه پېشـــګوئي کـــړه
د تـــاریخ پـــه ګـــواهۍ ئـــې ګـــواهي کـــړه
چـــې رښـــتیا پـــه ځـــائے اتـــال حقیقـــت نـــۀ دے
د اســـمان پـــه شـــان ولاړ حقیقـــت نـــۀ دے
اوس د نـــوي ژونـــد پـــه نـــوي تنـــاظر کښـــې
د رښـــــتیاؤ هــــــر منطـــــق دروغژنېــــږي
د دروغـــــو فلســـــفې بــــه رښـــتیا کېـــږي
نو،
کــــۀ څـــوک ژونـــــد تېــــرؤل غـــواړي
او مـــــــرام خپلـــــــول غـــــــواړي
د دروغـــــو پـــــه مکتـــب کښـــې بــــه
دروغ زده کــــــــول غـــــــــواړي